مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۴۰۰ د غبرگولي ۱۱مه | د ۲۰۲۱ د جون لومړی | ۷۲۵مه گڼه

## څېره

۴ مخ



### کریستهف کولمب

ویل کېږي چې کولمب د لومړي ځل لپاره امریکا کشف کړې او دې لوبې وچې ته یې د انساني ژوند خرک رسولی. ځینې کسان یې د دې لوبې وچې د تمدن سرلاری هم بولي.

# په کور دننه د سولې پر خبرو ټینگار؛

## حامد کرزی: که د سولې پروسه له بهرنۍ پروژې پر ملي پروسې بدله نه شي، پایله نه لري



۳

### په پکتیا کې د ۷۸ میلیونه افغانیو په لگښت د کرونا ۱۰۰ بستریز روغتون گټې اخیستنې ته وسپارل شو



په پکتیا کې د ۷۸ میلیونه افغانیو په لگښت د کرونا ۱۰۰ بستریز روغتون گټې اخیستنې ته سپارل شوی دی.
د یاد ولایت چارواکي وایي، دغه روغتون د کرونا ناروغانو د درملنې لپاره ټول امکانات لري، چې چارې یې د یوه کال په موده کې سرته رسېدلې دي.
دوی زیاتوي، چې دغه روغتون د جمهوري ریاست د عملیاتي ادارې له لوري د یوه کال په موده کې جوړ شوی، چې په کرونا ناروغۍ د اخته کسانو د درملنې په برخه کې به اغېزمن تمام شي.
د یادونې ده چې په هېواد کې د کرونا ویروس له خپرېدو سره هممهاله په گڼو ولایتونو کې د دغه ویروس پر وړاندې د مبارزې په موخه ډېر روغتونونه جوړ شول چې تر ډېره پکې پر دغه ویروس د اخته کسانو درملنه کېږي. عامې روغتیا وزارت وایي چې تېره ورځ هم په کابل د کرونا ۱۰۰ بستریز روغتون تر رغونې وروسته گټې اخیستنې ته وسپارل شو.

### د سولې پروسه څه ډول له بهرنۍ پروژې څخه ملي پروسې ته اوښتی شي؟

۲ مخ

### د قلم ۱۸۰ بمبې

۲ مخ

### تعصب چیست و چگونه درگیر آن می‌شویم؟

۲ مخ

## وکیلان: پر نامسوولو کسانو د وسلو وېش به هېواد له ستر ناورین سره مخ کړي

د ولسي جرگې غړي وایي چې حکومت د هېواد په یو شمېر سیمو او په ځانگړې توگه په شمال ولایتونو کې پر نامسوولو کسانو په غیرقانوني ډول د وسلو د وېش لړۍ پیل کړې ده. وکیلان د حکومت دغه اقدام د قانون خلاف بولي او ټینگار کوي چې دغه کسان نه یوازې دا چې د امنیت په ټینگښت کې مثبت رول نه لري، بلکې په ډېریو وختونو کې د نا امنیو، وسله والو غلاوو، باج اخیستنې او نورو خپلسریو لامل شوي دي.
وکیلان زیاتوي چې عام خلک د خپلسرو وسله والو له غیر قانوني کړنو ستړي شوي او که حکومت دا لړۍ ونه دروي، د دولت او خلکو ترمنځ به واټن زیات شي او بنایي خلک پر بدیلو لارو فکر کولو ته اړ کړي.
په ورته مهال عام افغانان هم دې چارې اندېښمن کړي او وایي چې حکومت په تېر کې پر نامسوولو کسانو وسلې ووېشلې، خو دغو کسانو د امنیت د ټینگښت پر ځای د قومونو ترمنځ بې اتفاقیو، وسله والو غلاوو، باج اخیستنې او قانون ماتونې نه مخ کړه، له همدې کبله حکومت باید د دغې ناکامې تجربې له تکراره ډډه وکړي. بلخوا د بشري حقونو مدافع بنسټونه وایي چې نامسووله وسله وال د افغانستان په څو لسیزو جگړو کې پر گڼو بشري سرغړونو تورن دي او پر افغان حکومت غږ کوي، چې پر دغو کسانو د وسله وېشلو پر ځای دې دوی د محاکمې میز ته را حاضر کړي.

## سولې وزارت: دوحې ته د مذاکراتي پلاوو له تگ سره به ژر د سولې خبرې پیل شي



۵ مخ

## ستولټنبرگ: په افغانستان کې مو پاتې کېدل د جگړې د دوام او ډېرو قربانیو لامل کېده




د ناټو عمومي منشي ینس ستولټنبرگ ویلي، چې په افغانستان کې اوسنی امنیتي وضعیت سخت او ننگوونکی دی، خو له دغه هېواده یې د پوځیانو د ایستلو پرېکړه پر ځای بللې ده.
ستولټنبرگ په بروکسل کې په دې تړاو یوې خبري ناستې ته وویل، له افغانستانه د پوځیانو ایستل خطرونه لري، خو د پوځیانو پرېښودل هم د ستونزې حل نه دی. هغه ویلي، په افغانستان کې د ناټو پوځیانو پاتې کېدل هلته د جگړې د دوام او د لا ډېرو قربانیو په مانا دي.
د نوموړي په خبره: «زما په فکر موږ هېڅکله هم دا اراده نه درلوده چې د تل لپاره دې په افغانستان کې پاتې شو. په همدې دلیل مو په تدریجي ډول هلته د خپلو پوځیانو شمېر کم کړی، څو کاله مخکې مو افغانستان کې له سلو زرو ډېر پوځیان درلودل، خو د دې کال په پیل کې یې شمېر لسو زرو ته راکم شوی و. اوس به دا شمېر صفر ته راکمېږي».
خو د ناټو سرمنشي یو ځل بیا ټینگار کړی چې د پوځیانو له ایستلو وروسته به هم له افغانستان سره په درېیو برخو کې خپلو مرستو ته دوام ورکوي. ستولټنبرگ په دې لړ کې د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې او وړتیاوو ډېرولو، له افغان پوځ سره د مالي مرستې او همدا راز له افغانستانه بهر د افغان پوځ د روزنې یادونه کړې ده.


## فروش زمین

یک قطعه زمین به مساحت {9080 متر مربع} واقع قرغه {ناحیه 5 ، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802



## سرلیکنه

### د سولې پروسه څه ډول له بهرنۍ پروژې څخه ملي پروسې ته اوښتی شي؟

پخواني ولسمشر حامد کرزي ویلي چې د سولې پروسه باید ملي شي او مشري دې یې د افغانانو لاسته ولوېږي. نوموړي پرون په کابل کې یوې غونډې ته وویل چې له سولې بهرنیانو خپل ځان ته د گټې پروژه جوړه کړې ده، خو افغان لورو ته پکار ده چې دا بهیر له پروژه‌والي را وباسي او پر ملي پروسه دې یې بدل کړي. حامد کرزي وویل روان جنگ د پردیو د گټو لپاره دی او بهرنیان افغانستان ته سوله نه راولي، نو ځکه افغانان باید جگړه ودروي او سوله وکړي.

پوښتنه دا ده چې د سولې هڅې څه ډول د بهرنیانو له پروژې څخه په ملي پروسه بدلېدلی شي؟

د سولې په خبرو کې ځکه تر اوسه پورې اساسي پرمختگ نه دی شوی چې هر څه د بهرنیانو په لاس کې وو او افغانان تر ډېره بې واکه شوي وو. که څه هم د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه وشوه او دواړو لورو دا هوکړه تر ډېره عملي کړې هم ده، خو د سولې بین الافغاني خبرې لا هم په ټپه ولاړې دي. نه یوازې په دې خبرو کې کوم مهم پرمختگ نه دی شوی، بلکې اوس دواړه اړخونه یو له بل سره ویني هم نه. د دې تر څنگ په ټول هېواد کې سختې جگړې دي، چې پکې دواړو لورو ته هره ورځ تر سلو ډېر کسان وژل کېږي او نور پراخ مالي زیانونه هم اوړي. داسې ښکاري چې که د سولې هڅې په همدې ډول وي، نه یوازې سوله به ونه شي، بلکې د سولې دا فرصت به ضایع شي او مور به یوې بلې جگړې ته ور ټېل وهل شو. پر یوه ملي او افغاني پروسه د سولې هڅو د بدلېدو لپاره تر گردو لومړی گام دا دی چې ښکېل اړخونه یو پر بل باور وکړي. له بده مرغه تر اوسه پورې هم یو پر بل باور نشته، دواړه اړخونه آن د عادي ناستې لپاره هم د بهرنیانو مداخلې ته اړتیا ویني او که کوچنی توافق هم کوي، د بهرنیانو په فشار او د هغوی په غوښتنه یې کوي. پکار ده چې نور دواړه اړخونه یو پر بل باور وکړي، مخامخ، رښې او د بهرنیانو له حضور او مداخلې پرته خبرې وکړي. که دواړه اړخونه په اخلاص او رښتیني مانا یو له بل سره کېني او خبرې وکړي، نو ډېرې ستونزې به حل شي. له بله اړخه دواړه اړخونه باید د بهرنیانو د مداخلې او بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه واحد دریځ پیدا کړي. د دې تر څنگ که شونې وي چې ورو ورو دې خبرې له هغو ځایونو را وایستل شي چې هلته د بهرنیانو د مداخلې او فشار امکان زیات وي. که ممکنه وي دا خبرې دې په افغانستان کې هم پیل شي او ورو ورو دې پیاوړې شي. تر دې مهمه دا چې دواړه اړخونه باید یو واقعي افغان لوری پیدا کړي چې د درېیمگړي رول ولوبوي؛ دواړه اړخونه دې پرې باور وکړي او خبرې ته دې یې غوږ کېږدي. که د سولې روانې هڅې افغاني او ملي نه شي، نو دا خبره سمه ده چې جگړه به دوام کوي، بهرنیان به پکې خپلې گټې گوري او افغانان به یوازې د سونتوکو په توگه پکې کارول کېږي.

# د قلم ۱۸۰ بمبې

لیکوال: **شي منگ** - د چین میډیا گروپ خبریال
ژباړونکې: **زرینه** - د چین میډیا گروپ خبریاله

په چین کې یوې مور په دې وروستیو ورځو کې پر ټولنیزو رسنیو د خپل زوی د ۱۸۰ بمبو انځور خپور کړی، چې د لیسې په درې کلنه دوره کې یې کارولي دي.

دغه انځور ما ته د جون میاشت رایاده کړه. په چین کې جون میاشت د دوبي له موسم سره برابره ده او هوا پکې معمولاً ډېره گرمه وي، دغه میاشت د لیسې د درېیمې درجې د زده کوونکو لپاره ډېره مهمه ده، ځکه دوی د تېرو ۱۲ کلنو زده کړو ثمره ویني او د کانکور ازموینې کې گډون کوي او داسې ښکاري، چې دوی د اوږده واټن منډه وهونکو په څېر د هدف پر لور په چټکۍ ځغلي. ځینې زده کوونکي به پوهنتونونو ته بریالي شي او ځینې به ونه توانېږي، چې د بریالیتوب نمرې تر لاسه کړي، نو دوی د ژوند نورو لوریو ته ورگرځوي.

کانکور د ټولو زده کوونکو لپاره د ژوند د بدلولو اهمیت لري. په چیني ژبه کې د لیسې زده کوونکي ته "شوه شنگ" او محصل ته "دا شوه شنگ" ویل کېږي. که دغو دوو ترکیبي نومونو ته وگورو، نو دواړه یو شان دي، یوازې په یوه نوم کې د "دا" کلمه زیاته ده، چې د لوی مانا لري، خو د بریالیو محصلینو لپاره بیا ډېرې ماناگانې لري، ځکه دوی په همدې وخت کې د ژوند له ډېرو نویو بدلونونو سره مخ کېږي.

د دغو ۱۸۰ بمبو په لیدو سره مې په ذهن کې د یوې کوچنۍ ولسوالۍ د یوه منځني ښوونځي زده کوونکي، چې په بدن سپینې جامې یې پر تن دي او د میز تر څنگ څراغ ته په مطالعې بوخت دي، انځور وگرځیده. دغه ځوان هغه څه لیکي، چې نه یوازې د خپلو تېرو ۱۲ کلنو زده کړو، بلکې د خپل پخواني ژوند ښکارندویي هم پکې کوي او د راتلونکي هیلې پکې منعکسوي. په چین کې زیاتره ځوانان او منځني عمر لرونکي کسان دا تجربه کوي.

چینایان که په سمسورو ښارونو او یا په لرې پرتو کلیو کې اوسي، زده کړو ته په درنه سترگه گوري او تر وسې هڅې کوي، چې د خپلو ماشومانو لپاره د زده کړو ښه زمینه برابره کړي. حکومت هم د ښوونیزو سرچینو د عادلانه ویش لپاره خپلې هڅې نه سپموي او تر ۹ کلنۍ د اجباري زده کړو تگلاره او نورې گټورې ښوونیزې کړنلارې یې غوره کړې او پلې کوي یې او دا د چینایانو د دودونو ښکارندویي کوي.

چیني فیلسوف کونفوسیوس ۲۰۰۰ کلونه پخوا د ښوونې او زده کړو په اړه ویلي، چې هر کس ته باید د ښوونې زمینه برابره شي.

په افغانستان کې هم کله چې ځوانان ثانوي زده کړې بشپړې کړي، نو بیا د لوړو زده کړو لپاره د کانکور په ازموینه کې گډون کوي، څو د خپلې خوښې پوهنځي ته بریالي شي. افغان ځوانان له کانکور مخکې ۱۲ کاله زده کړې کوي او دا د چین له وضعیت سره ډېر ورتوالی لري.

د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني په دې وروستیو کلونو کې له هغو زده کوونکو سره، چې په کانکور کې یې ښې نومرې تر لاسه کړې، په ولسمشرۍ ماڼۍ کې گوري او ستایي یې او دوامدارو هڅو ته یې هڅوي. ما څه موده مخکې د افغانستان د یوې سیمې انځور ولیده، پکې ښکارېدل چې یوه ډله افغان ځوانان د غره په لمن کې پر زده کړو بوخت دي. دوی پر میزونو او چوکیو نه وو ناست، بلکې پر خړې ځمکې ناست وو، خو له څېرو یې خوښي ښکارېده او پر شونډو یې مسکا لیدل کیده.

د افغانستان ډېرې سیمې اوسمهال نا ارامې دي او هلته د ماشومانو د زده کړو شرایط ډېر خراب دي او ان خطرناک دي، خو له زده کړو سره د دوی شوق او ذوق کم نه دی.



ښوونه نه یوازې د چیني ځوانانو، بلکې د افغان ځوانانو د برخلیک بدلولو او د ښې راتلونکي لپاره یوازینۍ لار ده.

زه هم د همدغو ماشومانو په څېر وم او له هغه چیني هلک سره، چې د قلم ۱۸۰ بمبې یې کارولې، یو شان د زده کړو تجربه لرم.

په دې وروستیو ورځو کې د چین د جنوب-لوېدیځ یون نان ولایت په یانگ بي ولسوالۍ کې زلزله وشوه، اوس هلته زده کوونکي کانکور ته پر چمتووالي بوخت دي، خو د مجبوریت له مخې له ټولگیو میدانونو ته انتقال شوي دي. حکومت په میدانونو کې ورته خیمې درولې او هملته یې د زده کړو مېزونه ورته اېښي دي. پر میزونو د مطالعې څراغونه لگېدلي او د څراغونو په رڼا کې د زده کوونکو مخونه لیدل کیږي. هلته اوس هم کله کله زلزلې رامنځته کیږي.

د یون نان ولایت د دغې کوچنۍ ولسوالۍ له میدانونو او د افغانستان د کابل د غرونو له لمنو د کتاب لوستلو اوازونه پورته کیږي او د هېوادونو ښه راتلونکي او د خوښۍ او نیکمرغۍ هیلې راټوکوي.

# تعصب چیست و چگونه درگیر آن می‌شویم؟

مجیب‌الرحمن اتل

تعصب و تبعیض در جوامع غربی با افزایش مهاجرین و گروه‌های ناهمگون تباری مورد توجه پژوهشگران قرار گرفته و بنا بر پیچیدگی آن، موضوع پژوهش‌های میان رشته‌ای بوده است.

تعصب نه تنها سبب پیش‌داوری و ایجاد ترس در افراد شده، بلکه رابطه میان گروهی را همچنین متاثر ساخته به اعتماد جمعی و همبستگی اجتماعی آسیب می‌رساند. تعدادی تعصب و تبعیض را بدون در نظر داشت بار معنایی آن، بطور مترادف بکار می‌برند. در حالی که بین تعصب و تبعیض رابطه نزدیک وجود دارد، اما الزاما هر تعصبی منتهی به تبعیض نمی‌شود. از همین رو، تعصب و تبعیض دو مفهوم جداگانه ولی با هم تنیده‌اند. در کشوری چون افغانستان که دارای اقلیت‌های ملی (نه اقلیت‌ها با ریشه مهاجرتی) با سطح پایین همبستگی اجتماعی است، تعصب و تبعیض با همه برجستگی و اهمیت آن، کمتر مورد توجه قرار گرفته است. واکاوی آن می‌تواند ما را در شناخت پندارها و رفتارهای منفی کمک کرده، در برقراری رابطه سالم و بدون خصومت یاری رساند.

تعصب چیست؟

ابن خلدون از پیشگامان نظریه عصبیت بیشتر از ۷ قرن قبل از امروز به شرح همبستگی شدید میان افراد بادیه‌نشینان که بیشتر بر مبنای خون و خویشاوندی بنا یافته پرداخته است. آنچه را که می‌توان از چارچوب نظری او استنباط کرد این است که تعصب نوعی وفاداری اعضای گروه برای مرام و موقف گروه است که در مقابل اهل مدینه (جامعه شهری) باعث پیروزی آنها می‌شود. از این دید، اهل مدینه که روابط آنها بر اساس خون و خویشاوندی بنا نیافته دارای عصبیت و همبستگی گروهی ضعیف است.

با الهام از این حس وفاداری گروهی، دانشمندان علوم اجتماعی نظریه عصبیت را بسط داده و از آن برای شرح تعصب تباری (racial prejudice) کار گرفته‌اند.

تا اوایل نیمه دوم قرن بیستم، پژوهشگران حوزه روان‌شناسی اجتماعی، تعصب را بیشتر برخاسته از شخصیت ناجور و بیمار فرد می‌دانستند. بعداً تعصب از حوزه شخصیت بیرون آورده شد و با شکل‌گیری آن در حس تعلق به گروه خاص اتنیکی که دارای موقف و موضع مشخص است گره خورد. فرد وابسته به گروه اکثریت، وقتی در تقابل با فرد وابسته به گروه اقلیت قرار می‌گیرد (یا عکس آن)، در نخست رابطه خود با وی را از نظر همین موقف (موضع) گروه، تعریف و تنظیم می‌کند.

البته تعریف از گروه غیرخودی، تعریف انتزاعی (abstract) است که قبلاً توسط نمایندگان گروه ارائه شده است. از آنجا که موضع و موقف گروه برای فرد ارجحیت دارد، فرد خود را نماینده گروه پنداشته و در تماس با دیگران (غیر خودی‌ها)، حفظ موقف گروه را مقدم‌تر از اهداف فردی خویش می‌پندارد. زمانی که این موقف و موقعیت گروه از سوی بقیه گروه‌ها با تهدید روبرو می‌شود، وی به عنوان نماینده گروه به دفاع و حفظ موقف گروه خودی می‌پردازد.

موقف گروه می‌تواند شامل امتیازات مالی (حوزه کار و اشتغال) و غیرمالی (قدرت سیاسی) شود. از این دید، عصبیت تباری (racial prejudice) نوعی پندار منفی (negative attitude) است که ریشه در تهدید از سوی گروه غیرخودی دارد. شدت این پندار می‌تواند باعث بروز کردارهای منفی از جمله تبعیض و خشونت علیه گروه غیرخودی شود.

از نظر این تئوری که آن را در علوم اجتماعی به عنوان (تئوری تهدید) می‌شناسند، افراد وابسته به گروه خاصی زمانی درگیر تعصب می‌شوند که می پندارند منافع مالی آنها (در حوزه اشتغال و کاریابی) و همچنان غیرمالی (در حوزه قدرت، سیاست و فرهنگ) در خطر تهدید گروه غیرخودی قرار گرفته که باعث تضعیف موقف گروه می‌شود. چنین تهدیدی گاهی باالقوه نیست و فقط زاده ذهنیت و پندار افراد است.

رابطه تعصب با تبعیض

اگر اعضای گروه خاصی (غیرخودی‌ها) را از نظر فکری و فرهنگی عقب مانده‌تر می پنداریم، اگر فکر می‌کنیم آنها بیشتر از ما مرتکب جرم می‌شوند یا این که مشکلات فعلی در جامعه را زاده کارکرد آنها می‌دانیم، دچار پیش‌داوری و تعصب شده‌ایم. به احتمال غالب چنین پندارهای منفی در مورد دیگران، همچنین باعث بروز رفتارهای منفی می‌شوند که ما آن را به عنوان تبعیض می‌شناسیم. تعصب را می‌توان پندار منفی دانست که در صورت تشدید، منجر به تبعیض (رفتارمنفی) می‌شود.

از همین رو، تفاوت تعصب و تبعیض در فاصله آن از پندار تا کردار است. پس جای تعجب نیست که در پهلوی گفتار و کردار نیک، پندار خوب همچنین شامل آموزه‌های محوری دین زرتشت می‌شود.

با افزایش مهاجرین و پناهنده‌ها و حوادث دهشت‌افگنی، عصبیت تباری به خصوص علیه مسلمانان در جوامع غربی همچنان رو به افزایش است. از آنجا که عصبیت می‌تواند زمینه‌ساز تبعیض شود، مطالعه تعصب در کشورهای غربی به ویژه در دو دهه گذشته، مورد توجه پژوهشگران بوده است. در این زمینه پژوهشگران از سروی‌های که پاسخ‌های شهروندان غربی را در رابطه با مهاجرین و اسلام در این کشورها، جمع آوری می‌کنند، این فرصت را می‌دهد تا پیش‌داوری (تعصب) بین شهروندان یا گروه اکثریت را با سطح تبعیض و تجربه‌های منفی مهاجرین و پناهنده‌ها (گروه اقلیت) مقایسه کنند. بیشتر این مطالعات رابطه نزدیک بین تعصب و تبعیض را تایید می‌کنند.

عوامل تشدید و تضعیف کننده

از آنجا که فقر و وضعیت نامناسب اقتصادی باعث کاهش فرصت‌های کاری شده، رقابت برای کار (به عنوان کالای کمیاب) بالا می‌رود، اعضای گروه غیرخودی به عنوان تهدید در بازار کار شمرده می‌شوند.

این وضعیت باعث افزایش تعصب و حتی تبعیض علیه اقلیت‌ها و گروه‌های آسیب‌پذیر اجتماعی به خصوص در میان افراد وابسته به گروه اکثریت با درآمد کمتر می‌شود. پژوهش‌های انجام شده سطح بلند تبعیض در بازار کار را هنگام بحران‌های اقتصادی علیه اقلیت‌ها تایید می‌کنند. بدین سبب، در کشورهای که داری وضعیت خوب اقتصادی نیستند و رقابت برای فرصت‌ها و منابع اقتصادی و سیاسی بالاست، انتظار می‌رود که سطح تعصب و تبعیض هر دو علیه اقلیت‌ها و گروه‌های غیرخودی بالا باشد.

برعلاوه وضعیت اقتصادی، مطالعات حوزه فرهنگ سیاسی نشان می‌دهد کشورهای که تنوع فرهنگی را در نصاب آموزشی شامل ساخته و تعامل بین گروه‌ها را ترویج می کند، نسل جدید در مقابل گروه‌های مختلف اتنیکی با مدارا به بار می‌آیند. برعکس، وقتی روایت غالب از تاریخ و فرهنگ در نصاب آموزشی تک‌گرایانه و قومی باشد، زمینه نهادینه‌سازی تساهل و مدارا در نسل نو محدود می‌شود.

چون شناخت از گروه غیرخودی از طریق تعریف انتزاعی بدست آمده و با واقعیت‌های تجربی سازگار نیست، تماس و رابطه نزدیک با گروه غیرخودی باعث می‌شود تا پایه‌های پیش‌داوری های قبلی فرو ریزند. از همین رو، رابطه و تماس با گروه غیر خودی می‌تواند از پیش‌داوری و تعصب جلوگیری کند.

در کشورهای غربی برقراری تماس، دیالوگ میان فرهنگی و جلوگیری از ایجاد جوامع موازی، بخشی از سیاست‌های ادغام مهاجرین را می‌سازد. از آنجا که تعصب زمینه‌ساز تبعیض است ولی تعصب را نمی‌توان از نظر قانونی منع کرد، کشورهای عمدتاً مهاجرپذیر غربی در عوض دست به تصویب قوانین منع تبعیض زده‌اند. از آنجا که سرکشی از این قوانین جرم پنداشته می‌شود، در کشورهای که دارای قوانین منع تبعیض اند، اعضای گروه اکثریت حاکم، کمتر دست به تبعیض می‌زنند. این قوانین که بیشتر زاده دو دهه اخیر هستند، نقش رسانه‌ها را در سمت و سو دادن افکار عمومی در نظر داشته، بین نفرت پراکنی علیه اقلیت‌ها و آزادی بیان همچنین مرز می‌کشند.

# د برېټانیا لخوا سلګونو افغانانو او د دوی کورنیو ته د ویزې ورکولو بهیر چټکوالی

جانتن بیل؛ بي‌بي‌سي- پښتو

د برېټانیا حکومت وايي، هغو سلګونو افغانانو ته برېټانیا کې د استوګنې ور کولو بهیر چټکوي، چې د دغه هېواد پوځ او حکومت سره یې کار کړی دی.
د دې کسانو لویه برخه هغه افغان ژباړونکي دي، چې برېټانوي پوځ سره یې دندې درلودې.
د نوي پلان له مخې د دغو کسانو او د کورنیو په ګډون یې تر دریو زرو ډېر افغانان برېټانیا کې مېشتېږي، خو تر دې مخکې هم نږدې ۱۳ سوه کسانو ته برېټانیا کې اقامه یا استوګنه ور کړل شوې ده.
د برېټانیا د حکومت دا پرېکړه په داسې مهال ده چې ټاکل شوې ده، تر سپټمبر ټول بهرني ځواکونه له افغانستان ووځي او له دغه هېواد او نورو بهرنیو ځواکونو او ادارو سره د کاري مخینې لرونکو افغانانو د خوندیتوب اندېښنې شته.
د برېټانیا دفاع وزیر بن والس وايي، یوازینۍ سمه لار د پلان چټکول دي. د هغه په خبره، داسې کسانو ته برېټانیا کې استوګنه ور کول کېږي چې وېره ده «د طالبانو د غچ اخیستلو له خطر سره به مخ شي.»
په ۲۰۱۴ کال چې هلمند کې برېټانوي ځواکونو یرغلیز عملیات پای ته ورسول، د همکارو افغانانو د خوندیتوب غوښتنه یې هم را پورته شوه او دې برخه کې هلمند ته تللي برېټانوي ځواکونه د دوی ډېر ملاتړي دي.
پخوانیو پلانونو کې د برېټانیا د ویزې غوښتونکو ته سخت قیودات وو او د همکارو افغانانو د خدمت موده او د دندې ډول پکې ډېر مهم و. د بېلګې په ډول، هغو ژباړنو ته غوره توب و چې تر یو کال ډېر مهال یې له برېټانوي پوځ سره د هلمند د جګړې لومړۍ کرښه کې دنده درلوده.
خو د حکومت د نوې پالیسۍ له مخې د دندې حالت، موده یا ډول ته له پام پرته هر هغه اوسني یا پخواني کس ته غوره توب ور کول کېږي، چې د ارزونې له مخې یې ژوند په سخت خطر کې وښودل شي.
د برېټانیا حکومت وايي، له دې ګام سره دا حقیقت ښودل غواړي چې افغانستان کې امنیتي حالت بدل شوی دی او تېرو شلو کلونو کې د برېټانیا حکومت او پوځ سره همکارو ځايي کارکوونکو ژوند ته باالقوه خطر تاییدوي.
حکومت په یوه بیان کې وايي: «لومړي وزیر د دفاع، کورنیو او استوګنې چارو وزارتونو، ټولنو او ځايي حکومت ته دنده سپارلې چې د نوې پالیسۍ له مخې د ځايي افغان کارکوونکو او د دوی د کورنیو د لېږد او استوګنې ور کولو بهیر چټک کړي.»
که څه هم لا روښانه نه ده چې څومره افغانان به برېټانیا کې مېشت شي، خو حکومت وايي، تر دریو زرو ډېرو ته به د استوګنې زمینه برابره کړي.
که څه هم تر نورو پلانونو د نوي پلان له مخې ډېرو افغانانو ته وزیزې ور کول کېږي؛ خو هر هغه کس هم دې ویزې ته د غوښتنې حق نه لري چې له برېټانیا سره یې کار کړی دی؛ لکه ځینې هغه ځايي افغان کارکوونکي چې د برېټانوي پوځ یا حکومت سره د کار پر مهال د ناوړه چلن له مخې له دندې شړل شوي دي.

«لویه سرښندنه»

د برېټانیا دفاع وزیر بین والس وايي، له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره د دوی همکارو افغانانو ته د طالبانو هدفي بریدونو په ګډون ګواښ ډېرېږي.
نوموړي بي بي سي ته وویل: «هغو افغانانو چې د برېټانیا لپاره یې کار کړی، زموږ د خوندیتوب لپاره یې لویه سرښندنه کړې او اوس زموږ وار دی چې متقابل عمل وکړو.»
د کورنیو چارو وزیر پرېتي پټېل هم وايي: «دا زموږ اخلاقي دنده ده چې هغه خطر تایید او د دوی د هڅو قدر وکړو چې د ترهګرۍ ضد جګړه کې ور سره مخ وو.»
نوموړې وايي، په دې خوشال دی چې اوس دا ژمنه پوره کوي او افغان کارکوونکو او د دوی کورنیو ته برېټانیا کې د نوي ژوند پیلولو چانس ور کوي.
د روان میلادي کال لومړیو کې برېټانیا افغانستان کې ۷۵۰ سرتېري درلودل چې تر ډېره یې کابل کې امنیتي مسوولیت درلود.
د امریکا د ولسمشر جو بایډن د تېرې اپرېل میاشتې له پرېکړې سره تر راتلونکې سپټمبر میاشتې ټول امریکایي ځواکونه له افغانستانه وځي.
ناټو هم ورته پرېکړه وکړه، خو د برېټانیا لوړپوړي دفاعي چارواکي پر دې پرېکړه «خوشال» نه وو.

# په کور دننه د سولې پر خبرو ټینګار؛


## حامد کرزی: که د سولې پروسه له بهرنۍ پروژې پر ملي پروسې بدله نه شي، پایله نه لري



په هېواد کې د جګړې او سولې د ګرمو بحثونو په دوام، د هېواد مخکینی ولسمشر حامد کرزی د سولې اوسنۍ خبرې بهرنۍ پروژه بولي او ټینګار کوي، تر هغې چې دا خبرې ملي نه شي او مدیریت یې په خپله افغانان په لاس کې وانه خلي، سوله نه شي راتلی.
نوموړي په کابل کې د سولې په تړاو یوې جوړې شوې غونډې ته وویل: «د افغانستان خلکو، د طالبانو اسلامي تحریک او هغه کسان چې ځان جمهوریت بولي، راشئ چې دا پروسه ملي او افغاني کړو. دا پردۍ پروژه، په افغاني پروسه بدله کړو. په افغاني بهیر یې بدل کړو. موږ به بیا ژر تر ژره د سولې خاوندان شو. بیا به په خپل عزم او استقلالیت هم له ګاونډیو او هم له نورو سره خبرې وکړو.»
که څه هم افغان حکومت او طالبانو تر اوسه د ښاغلي کرزي د دغو څرګندونو په اړه څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې دواړو لوري یو او بل د سولې پروسې پر وړاندې د خنډونو پر رامنځته کولو تورن کړي دي.
حامد کرزي دغه راز له افغان حکومت او طالبانو وغوښتل چې د سولې خبرې د بهرنیو هېوادونو پر ځای، په افغانستان کې پیل کړي چې په خبره‌یې، دا ډول خبرې به پایله هم ولري. دا په داسې حال کې ده، چې له دې وړاندې هم په هېواد کې دننه د سولې پر خبرو ټینګار شوی، خو خو طالبانو بیا دا وړاندیزونه رد کړي او ویلي یې دي چې د سولې د خبرو ادرس او ځای معلوم دی.
کرزی داسې مهال په کور دننه د سولې د خبرو په پیل ټینګار کوي، چې د سولې په چارو کې د دولت وزارت وايي چې د افغانستان د مرکچې پلاوي یو شمېر غړي به له طالبانو سره د سولې خبرو د پیل په موخه نن دوحې ته ولاړ شي.
د یاد وزارت چارواکي وايي چې د افغانستان اسلامي جمهوریت مرکچې پلاوي د حکومت او د ملي مصالحې عالي شورا له مشرانو، سیاسي رهبرانو او د ټولنې له بېلابېلو ډلو سره لیدلي او د سولې خبرو د دوام په اړه‌یې لازمې مشورې کړې دي.
د دغه وزارت ویانده ناجیه انوري وايي چې افغان مرکچي پلاوی له بشپړ چمتووالي سره د خبرو مېز ته ستنېږي او دوحې ته د دواړو مذاکراتو ټیمونو له رسېدو سره به د سولې په تړه ولاړې خبرې بېرته پیل شي.
د نوموړې په خبره: «د افغانستان اسلامي جمهوریت په قوي اراده او په پوره چمتووالي دې خبرو ته بېرته ورځي، څو د سولې خبرې چې په کوم ځای ولاړې وې، بېرته‌یې پیل کړي.»
د یادونې ده چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو مرکچي پلاوي په تېر کوچني اختر کې سره ناست وو دواړو لورو پرېکړه کړې وه چې د سولې خبرو ته به دوام ورکوي او روان وضعیت به یو سیاسي حل مومي.
د سولې پروسې په تړاو پخوانی ولسمشر حامد کرزی داسې مهال دغه څرګندونې کوي، چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د سولې بین الافغاني خبرو لومړی پړاو د تېر ۲۰۲۰ز کال د سپټمبر په ۱۲مه پیل شو، خو تر ډېرو بحثونو او جنجالونو وروسته دواړو لوري په خپلو کې ځینو هوکړو ته ورسېدل، خو په دې وروستیو کې په ځنډ سره د بهرنیو ځواکونو د وتلو له کبله د سولې خبرې بېرته له ځنډ او ځنډ سره شوې.

# د ایران لانجمن اټومي پروګرام؛

## تهران: د نړۍ له سترو قدرتونو سره د مهمو مسایلو پر حل جدي بحثونه روان دي




ایران وايي، د نړۍ له سترو قدرتونو سره د ۲۰۱۵ز کال د اټومي تړون د احیا لپاره په خبرو کې د پام وړ پرمختګ شوی، خو یو شمېر مهمې مسئلې تر اوسه ناحل پاتې دي چې ډېرو بحثونو ته اړتیا لري.
ایران او د نړۍ شپږو قدرتونو له اپرېل میاشتې راهیسې د اتریش په پلازمېنه ویانا کې د اټومي تړون د بیا احیا پر سر خبرې پیل کړې، ترڅو هغه لارې چارې ولټوي چې له مخې یې واشنګټن او تهران وکولای شي په بشپړه توګه بېرته د ۲۰۱۵ز کال اټومي تړون ته ستانه شي. واشنګټن لګول شوي بندیزونه لرې کړي او تهران هم له اټومي فعالیتونو لاس واخلي.
د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند سعید خطیب‌زاده په تهران کې په یوه خبري کنفرانس کې وویل، په ویانا کې د خبرو هر پړاو کېدای شي نهایي وي، خو موږ ته بېړه په کار نه ده.
خطیب‌زاده زیاته کړې چې په خبرو کې مو د پام وړ پرمختګ کړی، خو اساسي مسئلې تر اوسه لاپاتې دي چې له ډېرو بحثونو او خبرو وروسته به هوارې شي. خطیب‌زاده همدارنګه ویلي، چې د ویانا خبرې په تېره نه دي درېدلې، بلکې په پوره احتیاط پر مخ ځي.
د یادونې ده چې د نړۍ له سترو قدرتونو سره د ایران د اټومي تړون له مخې ایران ژمنه کړې چې اټومي فعالیتونه به دروي او په بدل کې یې پر دغه هېواد د نړیوالو بندیزونه نرمېږي.
وروسته له هغې چې د امریکا پخواني ولسمشر ډونالد ټرمپ په ۲۰۱۸ز کال کې خپل هېواد له دغه تړون څخه وایست او پر ایران‌یې بېرته بندیزونه ولګول، دغه تړون له یو مبهم برخلیک سره مخامخ شوی دی.
تهران هم له خپله اړخه هغه ژمنې تر پښو لاندې کړې، چې د خپل اټومي پروګرام په اړه‌یې په دغه تړون کې کړې وې. د امریکا ولسمشر جو بایډن په جنوري کې د ولسمشر په توګه د لوړې په مراسمو کې وویل چې که لومړی تهران د دغه تړون ټولې ژمنې عملي کړي، نو متحده ایالتونه به بېرته ورسره یوځای شي.
د دغه تړون له مخې، د یورانیمو د غني کولو په برخه کې چې کېدای شي ورڅخه د اټم بم په جوړولو کې کار واخیستل شي، پر ایران سخت محدودیتونه لګول شوي دي.
د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند سعید خطیب‌زاده ویلي، ټول بندیزونه باید لېرې شي او هغه باید د ایران لخوا تایید هم شي، له هغې وروسته به دغه هېواد د اټومي فعالیتونو له پر مخ بیولو په شا شي.
په ورته مهال یوه لوېدیځ ډیپلومات چې د ویانا د خبرو په جریان کې دی، د خپل نوم نه‌ښودلو په شرط ویلي چې روانه اونۍ به یوه هوکړه اعلان شي، چې د راتلونکو اقداماتو لپاره د واشنګټن او تهران مسوولیتونه به پکې واضح شوي وي.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### اوومه برخه
### راتلونکې ته نظر




سېنها: دا دوامداره بن بست لا هم دوام کولی شي.
دولت: او تر دې خرابېدای هم شي.
سېنها: راځئ ستاسې د لېست په اړه وغږېږو.
دوراني: جنرال صېب د کار د ترسره کېدو لارې وړاندیز کړې، په داسې حال کې چې ما هم ویلي، چې دا کارونه باید وشي.
د بېلگې په توگه، چې کله عبدالباسط د ۲۰۱۴ کال په مارچ کې راغی، نو ما ورته وویل: «عالي کمېشنره هیله من یم، چې تاسې له اسلاماباد څخه ښه خبرونه راوړي وي.» هغه وویل: هو، ښه خبرونه پر لاره دي. وا مې ورېدل، چې هغه د «MFN» اعلان و. خو «BJP» لاس په کار شو، یو شمېر سوداگر لاهور او سلام آباد ته ولاړل او دا موضوع وځنډېده. تر اوسه دا کار نه دی شوی. اوس په نوي ډېلي کې زموږ خوا وایي، «MFN» نو څه مهمه هوکړه ده؟ موږ ورته اړتیا نه لرو.
په دې کې یوه سرتمبگي موجوده ده، خو پوښتنه دا ده، چې که په ۲۰۱۴ کال کې دا معامله شوې وي، نو تر اوسه ولې پرې هوکړه نه ده شوې؟ بس په خواشینۍ سره د هند ـ پاکستان معمول همداسې دی. زما نوملړ عادي دی. ابتدایي شیان په کې دي، چې اسانه دي.
لکه د خلکو ترمنځ د اړیکو موضوع. موږ تل په دې اړه غږېږو، خو دا کار نه کېږي، ځکه د ویزو اخیستل ستونزمن دي. یو وخت وړاندیز شوی و، چې د پاخه منگ (لوړ عمر) کسانو ته دې له رسېدو سره سم ویزه صادره شي. دا به خورا ښه گام و، چې د لوړ عمر پاکستانیانو ډېلي، ممبیي یا واگه ته له رسېدو سره سم ویزه ترلاسه کولی شوای. دغه راز د هند هغو هم. اوس الوتنې نږدې په بشپړه توگه ځنډېدلې دي. پخوا هم یوازې د «PIA» الوتنې کېدې. عالي کمېشنر وویل چې له جیټ او اینډیگو شرکتونو سره غږېدلی او هغوی هم الوتنو ته چمتو دي. خو هېڅ کار هم ونشو.
سېنها: د الوتنو په اړه غټې ستونزې کومې دي؟
دولت: سرتمبگي.چې «ایرانډیا» الوتنې نه کوي، نو جیټ او انډیگو یې ولې وکړي؟ دا له مزخرفاتو پرته نور څه نه دي.
سېنها: ستاسې لېست د سرتمبگیو له ژور احساس څخه ډک دی، خو ټول یې کېدونکي کارونه دي.
دولت: او د هغو په اړه په کراتو، کراتو خبرې هم شوې، خو په عمل کې هېڅ هم نه دي شوي. په زړه پورې ده، که یو کشمیری د یوه بل هندي په څېر ویزه وغواړي، نو ژر به یې ترلاسه نه کړي، خو که گیلاني صېب یا میرواعظ یې د ویزې سپارښتنه وکړي، نو کار به یې ژر وشي.
زما مېرمن ښایي په اسانۍ ویزه ترلاسه کړي، خو زه یې ښایي ترلاسه نه کړای شم.
سېنها: تاسې هر وخت کولی شئ د سپارښتنې لپاره گیلاني صېب ته ورشئ.
دولت: یو بل کس هم همدا وړاندیز راته کړی و. ما ورته وویل: «ښایي موږ ویزه ترلاسه نه کړو.» هغه وویل: «موږ به یې درته واخلو.گیلاني صېب ته به ووایو. د هغه په سپارښتنه به کار وشي.» دا هسې لېونتوب دی.
سېنها: آن د کرکټ لوبډلې هم نه لوبېږي.
دولت: هو؛ خو باید له سره پیل شي، چې بریتانویان او استرالیایان امنیت احساسوي، نو موږ څه غوره والی لرو؟ که د ناامنۍ اندېښنه وي، نو ولې په انگلستان یا ابوظبی کې له پاکستان سره ونه لوبېږو؟
سېنها: پاکستان د شل اوریزو لوبو د لیگ یوه لوبه له کومې پېښې پرته لاهور کې ترسره کړه. خلکو خندل، چې له نندارچیانو څخه په کې امنیتي کسان ډېر وو، خو بیا یې هم دا کار وکړ.
دولت: هو؛ که موږ لاهور یا کراچۍ ته په تگ کې شکمن یوو، نو هند ته د پاکستان د لوبډلې په رابللو کې څه ستونزه ده؟ دوی راتگ ته چمتو دي.
موږ له تېرو اوو کلونو راهیسې د هند د غوره لیگ «IPL» په نوم سیالۍ ترسره کوو او داسې ډېر ښه پاکستاني لوبغاړي شته، چې دغو لوبو ته لا ډېره ښکلا او رنگیني وربښلی شي. ښایي شاهد افریدي له کرکټ استعفا وکړي، گڼ خلک یې د توپ وهنې لېواله دي، خو داسې لوبغاړي د هند په غوره لیگ کې نه شاملېږي. لامل یې څه دی؟ لامل یې دا سرتمبگي ده، چې ولې یو پاکستانی پیسې واخلي؟
د خندا وړ خبره دا ده، چې گڼ مشران پاکستاني لوبغاړي بیا ډېر وخت هند کې تېروي او تل هلته اوسي، لکه ظهیر عباس، چې له یوې هندۍ سره یې واده کړی دی. یا د وسیم اکرم او رامیز راجا په څېر مبصرین.

**دوام لري...**

# کرېستهف کولمب

شفیق امیرزی

کرېستهف کولمب ایټالیوي سوداگر او په سیندونو گرځېدونکی و. د ده په اړه پوره معلومات نشته، خو لاس ته راغلي معلومات ښیي چې هغه په ۱۴۵۱ز کال کې د اکتوبر په ۳۱ مه د اېټالیا په جونوا ښار کې زیږېدلی دی.
ویل کېږي چې هغه په اتفاقي توگه د امریکا لویې وچې ته ورسېد او دغه ستره قاره یې کشف کړه. د معلوماتو له مخې، کولمب ته د کاستېل پادشا ماموریت وسپاره چې د لوېدیځ له لوري هند ته ځان ورسوي چې په همدې لړ کې یې په ۱۴۹۲ز کال کې په اتفاقي توگه ببړۍ له اطلس بحر تېرېږي او امریکا ته رسېږي. هغه وخت امریکا ناپېژندل شوې وچه وه او خلک یې له تمدن او پرمختگ لرې پاتې وو.
کرېستهف کولمب د نړۍ په تاریخ کې د بحث پاروونکو څېرو له ډلې گڼل کېږي. له دې ډلې تاریخ لیکوال په تېره سورپوستي تاریخپوهان په دې باور دي، چې کولمب په نړۍ کې د کشمکش او قتلونو سبب شوی دی. د دوی په خبره، دی په مستقیمه او غیر مستقیمه توگه د میلیونونو سورپوستو په وژلو کې ښکېل دی.
همدا راز دی د اروپا له لوري د امریکا د استعمار سبب هم بلل کېږي، خو ځینې نور بیا برعکس دی د تمدن غوړوونکی بولي. دوی وایي، کولمب د دې سبب شو چې غربي فرهنگ د امریکا تر وچې ورسېږي او د دې وچې خلک له تمدن او نوي ژوند سره بلد کړي.
د تاریخپوه ډېوېډ ایکورن په خبره، د کرېستهف کولمب اصلي نوم جان کولون و. بیا یې خپل نوم په کریستهوفر کولمبوس بدل کړ. خو اوس په نړۍ کې په کرېستهف کولمب مشهور دی. مور یې سوزانه فونټه روسا نومېده. د ژوند د لومړنیو کلونو په اړه یې هم کافي معلومات نشته. تاریخپوهان وایي چې دی د ایټالیا د جونوا تبعه دی. ځینې نور یې بیا هسپانوی بولي.
پلار یې دومنیکو کولمبو نومېده چې سوداگر و او له حکومت سره یې هم اړیکې لرلې. مور یې بیا د یوه وتلي سوداگر لور وه، نو کولمب په یوه شتمنه کورنۍ کې لوی شوی و. کولمب تر ځان درې واړه ورونه او یوه خور هم لرل. په ۱۴۷۰ز کال کې یې کورنۍ د ژوند او سوداگرۍ لپاره ساوانو ته کډه شوه. په همدې ځای کې کولمب او ورور یې نه یوازې چې خپلې سوداگرۍ ته ادامه ورکړه؛ بلکې د نقشې د جوړولو او نقشې د کارولو هنر یې هم زده کړ. کولمب رسمي تحصیلات نه دي کړي او تر ۲۴ کلنۍ پورې یې لیکل او لوستل هم زده نه وو. ده هیله لرله چې د ببړۍ چلوونکی شي، مشر یې وي او لرې لرې سفرونه وکړي. وروسته وروسته یې زده کړې پیل کړې، هڅې یې وکړې، ځان یې پوه کړ او د ببړۍ چلولو، سفر کولو او نقشې کارولو مهارتونه یې زده کړل. کله چې د لیک لوست شو، نو ویل یې چې په سخته مطالعه او هڅه به د رسمي زده کړو د نه لرلو تشه ډکوي او خپله دا نیمگړتیا به له منځه وړي.
په ۱۴۷٦ز کال کې دا فرصت ورته برابر شو چې له سوداگرو سره یو ځای د لومړي ځل لپاره اطلس سمندر ته سفر وکړي. دوی سنټ وینسنټ ته رسېدلي وو چې فرانسوي سمندري غلو ورباندې یرغل وکړ او کښتۍ ته یې اور ورته کړ. ویل کېږي چې کولمب له دې پېښې ځان وژغوره او دا چې سمندر ته لوېدلی و، نو اړ شوی و چې پوره ۹.٦۵ کیلومتره لامبو وکړي او ځان وژغوري.
په ۱۴۷۷ز کال کې پرتگال ته لاړ. په هغه وخت کې دا ډېره مهمه سیمه وه او د اروپایي هېوادونو ټولې ببړۍ به دلته راتلې بیا به د انگلیستان، ایرلنډ، ایسلنډ، مادایر، ازور جزیزو او افریقا په لور روانېدې. کرستهف او ورور یې دلته د پرتگال په پلازمېنه کې د نقشو له جوړولو خپل کار پیل کړ. څه موده وروسته کولمب د واړه سوداگر په توگه له یوې پرتگالي ببړۍ سره یو ځای شو. هغه دوه کاله پرله پسې د خوړو او بورې د سوداگرۍ لپاره د مادایر، ایرلنډ او ایسلنډ ترمنځ تگ راتگ کاوه. وروسته یې افریقا ته سفرونه وکړل او بیا د پرتگال د حکومت له لوري په گینه کې د سوداگرۍ د برخې د استازي په توگه وگومارل شو.



په هغه وخت کې سوداگرو نه یوازې سوداگري کوله؛ بلکې د هېوادونو په تېره د استعماري قدرتونو لپاره د معلوماتو ټولولو کار یې هم کاوه. دوی به د لښکرو او پوځونو لپاره لارې پیدا کولې او بیا به یې خپلو حکومتونو ته په اړه معلومات ورکول. د دې تر څنگ دوی خپل فرهنگ غوړاوه، دینونه یې هم خپرول، جگړو کې یې په غیر مستقیمه توگه ونډه اخیسته او هغه د اروپا او اسلامي نړۍ ترمنځ کشمکش و چې سوداگرو به په دغه کشمکش کې ډېره ونډه لرله. د کولمب په وخت کې اروپاپانو هند ته د تگ لپاره مستقیمه لار نه لرله. دوی به جنوب ته تلل، له افریقا به تېرېدل، د هند په سمندر کې به یې ځان دې هېواد ته رساوه. په ۱۴۸۰مه لسیزه کې کولمب هم هند ته د سفر خیال په سر کې درلود، خو ده په هغه وخت کې پر تللو لارو تگ ته زړه ښه نه کړ، بلکې د معمول خلاف یې پر بله لار سفر پیل کړ. ده غوښتل له اروپا په مستقیمه توگه حرکت وکړي او د اطلس سمندر له لارې ځان اسیا ته ورسوي. د ۱۴۹۲ ز کال د اگسټ په درېیمه کولمب له خپلو ملگرو سره د دریو ببړیو په ملتیا له لافرونترا ووت. له دوی سره یوه لویه او دوې وړې کښتۍ روانې شوې. د یوې کښتۍ نوم پنتا، د بلې یې نینا او د درېیمې یې نینای موگر و. دوی د کولمب په خوښه په مستقیمه توگه په اطلس سمندر کې د اسیا په لور روان شول. دا لاره او سفر خطرناک و، ځکه اروپایانو هېڅ وخت په دې لار او په دې ډول سفر نه و کړی. ټول هم له انسانانو، هم له سمندري ژوو، څپو او توپانونو وېرېدل، خو کولمب پر خپله خبره ولاړ و.
کولمب چې تر اوږدو سفرونو په تصادفي توگه امریکا ته ورسېد، دا قاره یې کشف کړه، نو په ۱۴۹۳ز کال کې یې د هسپانیې پادشا ایزابل او ملکې ته یو لیک ولیکه. په دې لیک کې یې د دې سیمې د خلکو، بوټو، ژوو او اقلیم په اړه پادشا ته معلومات ورکړل.
له همدې وروسته کرېستهف کولمب له ۱۴۹۳ تر ۱۴۹٦ز کال پورې له اوولسو مجهزو ببړیو سره یو ځای د امریکا د نیولو لپاره دغه هېواد ته لاړ. له ده سره ۱۲۰۰ کسان په دې سفر کې شامل وو چې موخه یې هم له امریکا د مستعمرې جوړول وو. دوی غوښتل امریکایي بومي وگړي وځپي او خپل حکومت جوړ کړي. په لومړي سفر کې یې جنوبي برخې انتخاب کړې، له ٢٦ ورځنې مزل وروسته مرکزي امریکا یو دومینیکا ته ورسېدل. بیا شمال لوري ته وخوځېدل، د آنتیل وړو جزیرو ته ورسېدل، ویرجین جزایر یې ونیول او دا ټول ځایونه یې د اسپانیې برخه وگڼل. وروسته خپل پخواني ځای ته راغی، هغه ځای ته چې د امریکا د کشف پر مهال ورته راغلی و. دا سیمه یې هیسپانولا نومولې وه. خو کله چې ورسېد، ټول ځایونه یې له خلکو خالي ولیدل. پخواني ملگري یې چې دلته ورسره راغلي وو، یو هم نه و. ټول له ځایي امریکایانو سره په جگړو کې وژل شوي وو. ده د خپلې هستوگنې پر مهال یوه لویه کلا او د یوه واړه ښهرک د پیل چارې پیل کړې. هغه په همدې ماموریت کې له شرق تر غرب د کیوبا څنډې هم وکتې او سفرونه یې وکړل. ده هلته ډېر کارونه وکړل، د خپلو خلکو او ملگرو لپاره یې ځایونه جوړ کړل او چارې یې خپلو ورونو ته وسپارلې.
کولمب په ۱۴۹۸ز کال کې د درېیم ځل لپاره امریکا ته لاړ. په دې سفر کې هیسپانیولا ته تر رسېدو مخکې یې ترینیداد جزیره کشف کړه. له دې سره جوخت په امریکا کې د هغو کسانو ژوند هم له خطر او گواښونو سره مخ و، چې له کولمب سره په دویم سفر کې یو ځای راغلي وو. دا هغه کډوال وو، چې د کولمب ژمنې یې اورېدلې وې او د ډېرو پیسو د گټلو په تمه امریکا ته تللي وو. دوی له خپل وضعیت ناخوښ وو او د هسپانیې له حکومت یې غوښتل چې کولمب گوښه کړي. کولمب چې له بومي امریکایانو سره په جگړه بوخت و، د خپلو شاوخوا کسانو دې چلند غوسه کړ، غبرگون یې وښود او خپل څو نږدې ملگري یې د نافرمانۍ په جرم اعدام کړل. خو ځینې نور چې کله له امریکا راستانه شول، په هسپانیه کې یې حکومت ته د کولمب له کمکاریو او ناسم مدیریت شکایتونه وکړل. دوی ویل چې هغه یو بې کفایته دی او باید پر وړاندې یې اقدام وشي. پادشا او ملکې هم د فرانسیسکو په نامه یو څېړونکی دې شکایتونو ته د رسیدگۍ مامور کړ. هغه په ۱۵۰۰ز کال کې امریکا ته لاړ، همدا چې هلته ورسېد، له ځنډ پرته یې کولمب او وروڼه له دندو لرې کړل او مستقیم یې هسپانیې ته ولېږل. سره له دې چې کولمب تر لږ بند وروسته ازاد شو، خو هېڅ وخت بیا واک ته ونه رسېد او نه هم حکومت هغه ته د مشرتابه اجازه ورکوله.
په ۱۵۰۲ز کال کې کولمب یو ځل بیا ژمنه وکړه چې پر ټوله نړۍ به راگرځي او خپل سفرونه یې پیل کړل. دا یې امریکا ته هم وروستی سفر و. ده غوښتل سمې لارې وپلټي، له همدې امله یې ټوله امریکا له بلیز تر پانامې غلبېل کړه او سفرونه یې پکې وکړل. په دې سفرونو کې یې کوچنی زوی فردیناند هم ورسره و. دوی غوښتل خپل سفر لا وغځوي، خو له یوه امریکایي بومي سوداگر سره یې ببړۍ ټکر شوه او دا سفر وځنډېد. د هیسپانیولا د کمکي قوې تر رسېدو پورې کولمب اړ شو چې پوره یو کال په جامایکا کې پاتې شي او له هغه وروسته بېرته هسپانیا ته راغی. په وروستیو کلونو کې کولمب له دربار سره د لومړنیو هوکړو مطابق د دې غوښتونکی شو، چې د کشف شوو ځمکو لس سلنه عواید باید ورکړل شي. خو حکومت دا ورته پلمه کړه چې گواکې اوس د حکومت رسمي منصبدار نه دی، ځکه پخواني قرار دادونه د باور وړ نه دي. د ده غوښتنې یې رد کړې او حکومت ورسره پر خپلو کړو ژمنو عمل ونه کړ.
کریستهف کولمب تر ډېرو سفرونو او کشفیاتو وروسته د ۱۵۰٦ز کال د مې په شلمه په هسپانیا کې ومړ. هغه وصیت کړی و، چې په امریکا کې دې خښ کړل شي، خو دا چې هغه مهال په امریکا کې د دې کار لپاره مناسبه کلیسا نه وه، نو ځکه یې د هسپانیې په والادولید ښار کې خاورو ته وسپاره. له دې سره سره یې بیا هم په ۱۵۴۲ز کال کې جسد له خاورو و ایستل شو او هیسپانیولا ته ولېږدول شو. یو وخت د فرانسې او هسپانیې ستونزه پېښېږي، بیا د کولمب جسد له هیسپانیولا کوبا ته لېږدول کېږي. په ۱۸۹۸ز کال کې چې کله کولمبیا خپله خپلواکي اخلي، بېرته یې جسد له اطلس سمندر تېرېږي او هسپانیې ته لېږدول کېږي. خو لا هم دا دقیقه نه ده معلومه چې په رښتیني توگه د کولمب د وجود پاتې شوني په کوم هېواد کې دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸،۴۰ |
| € | ۹۴،۹۰ |
| Rp. | ۴۹۷ |
| ₹ | ۱۰۵۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۹،۲۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# پر ځان ناسم باور ناوړه زیانونه لرلی شي

**حماد هلال**

په ځان باور لرل د اشخاصو یو له ښوو ځانګړنو ګڼل کېږي، خو ځیني خلک په ځان د لږ او ډېر باور لرونکي دي، چې دا په اصل کې پر ځان دروغجن باور ګڼل کېږي او دا دواړي له په زړه پورې برخو څخه نه دي، چې له ځان سره زیانونه هم لري.

ځوک چې پر ځان غلط باور ولري، کله چې ټولنې ته له نورو سره د اړیکو جوړولو لپاره داخلېږي، له ستونزو سره لاس او ګریوان وي او کله ان نور خلک په خپل چلند خپه کوي. په دې لیکنه کې پر ځان د دروغجن باور لرل او د هغې د زیانونو په اړه بحث کوو.

**پر ځان دروغجن (غلط) باور لرل څه شی دی؟**

هغه خلک چې پر ځان کم باوره وي، معمولاً خلکو ته خپل شخصیت په ځان کلک باوره ښیي او غواړي د دې تر شا خپله کمزوري پټه کړي. دا خلک پر ځان د کم باورۍ له امله هڅه کوي، چې په یو ځانګړي او د خوښې وړ کار کې یې خپل شخصیت د دروغجن باور په لرلو پیاوړی ښکاره کړي.

هغه خلک چې پر ځان دروغجن باور ولري، په یو شکل د نورو د پاملرنې احتیاج او د نورو له لوري ملاتړ کېږي، په همدې دلیل دوی هم خلکو ته ځان باوري ښیي.

هغه خلک چې پر ځان لوړ دروغجن باور ولري، په داسې ډول چلند کوي چې ګواکې تاسو یې پر وړاندې درېږئ او فکر کوی څومره پر ځان باوري انسان دی، مګر په حقیقت کې داسې نه وي او حتی دوی پخپله پر ځان هم باور نه لري، فقط په چلند کې داسې ښیي چې پر ځان لازمي باور لري.

څنګه چې پوهېږو پر ځان باور خلک تر بریا رسوي او د هغې په څار خلک کولی شي خپلې ټولنیزې اړیکې پراخې کړي او ډېر خلک پرې باور وکړي. مګر پر ځان بې حده باور د خود غرضی او دروغجن باور لامل کېږي، یوازې دانه چې د بریا او پرمختګ مخه نیسي؛ بلکې کولی شي شخص ته ضرر هم ورسوي. امکان لري خود غرضه کس انزوا او خپګان ته لاړ شي، چې دا اصلاً مناسبه نه ده.

**پر ځان د دروغجن باور زیانونه**

هغه خلک چې خپل چاري وي، په هیڅ ډول خپل غرورامیزه چلند ته پاملرنه نه کوي او هیڅ فکر نه کوي چې د نورو د رنځېدو لامل ګرځي، خو هغه خلک چې بهر وي او له دې خلکو سره په اړیکه کې اوسي؛ له ډېرو نا ارامیو سره لاس او ګریوان وي، چې دا ناراحتي کولی شي ډېرې دلایل ولري. د بېلګې په ډول:

۱- دا شخص په خپل دروغجن باور چې پر ځان یې لري ډېر مغرور او خپل چارې وي، امکان لري په ټولنه او کارځای کې د نورو نظرونو ته پام ونه کړي او خپل نظر ورته د منلو وي.

۲- د لوړو الوتلو او همدارنګه د ډېر خوشبین اوسیدو له امله دوی تل له خپل وسه پورته مسوولیت پر غاړه اخلي، خو په پایله کې د هغې په تر سره کولو کې پاتې راځي.

۳- دا خلک هیڅکله د خپلې کمزورتیا نقطې نه قبلوي او همدا موضوع د دې لامل کېږي، چې دوی له ډېرې مشکلاتو سره مخ شي او د خپل ځان د اصلاح وړتیا نه لري.

۴- امکان لري په دې دلیل چې شخص ځان له هغه څه چې دی لوړ ښیي او په حقیقت کې داسې نه دی، د نورو د ځورېدو لامل شي.

۵- بل دلیل چې ممکن د خلکو د ځورېدو لامل شي، دا کس ځان ډېر زیات مهم او لوړ نیسي، نورو ته په کمه سترګه ګوري، چې دا ډول چلند د خوښولو وړ نه دی.

فرض کړئ تاسو د کار ساحه کې داسې همکار یا رییس لری، چې مغرور او له حده ډېر پر ځان باور لري، نو په دې مرحله کې امکان لري ستاسو کار د دې کس د هغو کړنو له امله چې کوي یې، له خطر سره مخ کړي او کېدای شي تاسو دې ته چمتو شی چې د دې کس له څنګه او دې ځای څخه لاړ شی.

که د کورنۍ یا شخصي خپلوانو منځ کې په دې خصوصیاتو یو کس ځای ولري، نو زغمل به یې سخت وي، ځکه تل به مجبور وی هغه ستاینې چې دا کس یې د ځان په اړه کوي، واوری.

په ټوله کې ټول انسانان دوه ډوله شخصیتونه لري، چې ځینې انسانان د خپل چاري شخصیت او ځینې یې بیا په بل پورې د تړلي شخصیت درلودونکي دي. ممکن درته جالبه اوسي چې د خپل چاري (خود غرضه) کلمه له کوم ځایه اخیستل شوې ده، خپل چاری یا نارسیست له یوې یوناني افسانې نارسیس څخه اخیستل شوې کلمه ده. په دې افسانه کې نارسیس په اوبو کې د خپل منعکس انځور مېین جوړېږي او دومره د اوبو ترڅنګه کېنې او ځان ته په اوبو کې ګوري، چې ضعیف او کمزوری کېږي او په پایله کې په یو ګل بدلېږي.

خپل چاري خلک کومې ځانګړنې لري:

۱ـ ځان ډېر مهم ګڼي؛
۲- له نورو سره همدردي نه کوي؛
۳- تل هڅه کوي چې د نور نظر د ځان لور ته جلب کړي؛
۴- خپلې بریاوې او وړتیاوې له مبالغې سره خلکو ته څرګندوي.

## اروپايي ټولنه: د ځواکونو له وتلو وروسته هم له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکوو

په افغانستان کې د اروپایي ټولنې چارواکي وایي چې دا ټولنه به له افغانستان سره ولاړه وي او له دغه هېواده د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به هم د نویو شرایطو په چوکاټ کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

دافغانستان لپاره داروپایي ټولنې د ځانګړي استازولۍ سرپرست توماس نېکلسن ویلي: «په داسې حال کې چې ځواکونه وځي، زموږ نیت پاتې کېدل دي. زموږ پالیسي نه ده بدله شوې، زموږ مأموریت نه‌دی بدل شوی، له افغانانو سره زموږ ژمنه نه‌ده بدله شوې، خو حالات د بدلېدو په حال کې دي. موږ دې ته اړتیا لرو چې دا مسئله یقیني کړو چې له دغو بدلونونو سره ځان عیار کړو ترڅو وکولای شو خپلې ښکېلتیا ته دوام ورکړو او په یو څه نوي چاپېریال کې خپلو مرستو ته دوام ورکړو.»



د افغانستان لپاره د اروپایي ټولنې د ځانګړې استازولۍ سرپرست دغه څرګندونې داسې مهال کوي، چې نن د ناټو د دفاع او بهرنیو چارو وزیران په یوه ګډه غونډه کې د افغانستان پر موضوع هم خبرې کوي.

د ناټو یو شمېر اروپایي غړو هم له دې مخکې له افغانستان سره د خپلو مرستو د دوام خبره کړې او د یاد تړون سرمنشي ینس ستولټنبرګ تېره اونۍ د پرتګال له لومړۍ وزیرې سره تر کتنې وروسته یو ځل بیا دغه ژمنه تازه کړه او ویې‌ویل چې ناټو له افغانستان سره دوامدارې همکارۍ ته ژمنه دی. ستولټنبرګ وویل په دغه همکارۍ کې د افغان ځواکونو د روزنې او د دغو ځواکونو د مالي ملاتړ دوام او د یوې تلپاتې سولې لپاره د ټولو هڅو ملاتړ شامل دي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د ولسمشر جو بایډن د پرېکړې له مخې، ټول امریکایي ځواکونه به د روان کال د سپټمبر تر ۱۱ مې له افغانستانه ووځي. د ناټو نورو غړو هم ویلي چې یوځای افغانستان ته تللي او یوځای به له دغه هېواده وځي.

له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو له وتلو وروسته د افغانستان د دولت نړیوال ملاتړې د دې ترڅنګ چې له دغه هېواد او امنیتي ځواکونو سره یې د مرستو د دوام ډاډ ورکوي، د دغه هېواد راتلونکي وضعیت ته هم اندېښمن دي.

## سولې وزارت: دوحې ته د مذاکراتي پلاوو له تګ سره به ژر د سولې خبرې پیل شي

د سولې په چارو کې د دولت وزارت وایي، چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت مذاکراتي پلاوی له طالبانو سره د مذاکراتو د پیل په موخه نن قطر ته ولاړ شي.

د دغه وزارت ویانده ناجیه انوري وایي چې د یاد مذاکراتي پلاوي یو شمېر غړي نن او پاتې غړي به تر هغې وروسته دوحې ته ولاړ شي. نوموړې زیاتوي چې د دواړو لورو د مذاکراتي پلاوو غړو په تیر کوچني اختر کې د یوې ګډې ناستې پرمهال د سولې خبرو پر ژر پیلېدو او د دغه بهیر پر چټکېدو باندې ټینګار کړی و.

د نوموړې په خبره: «د افغانستان د اسلامي جمهوریت مذاکراتي پلاوی په یوې قوي ارادې، پوره ژمنې او ښه چمتووالي سره یو ځل بیا د مذاکراتو ځای ته ځي، تر څو مذاکرات له هغه ځایه چې بند شوي بیا پیل کړي، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مذاکراتي پلاوي ټوله هڅه دا ده، چې په افغانستان کې د سولې ټینګېدو په هدف مذاکرات په بریالیتوب او ښه نتیجې سره پای ته ورسوي.»



بلخوا د ملي مصالحې عالي شورا مشر عبدالله عبدالله هم ویلي چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت مذاکراتي پلاوی د بین الافغاني مذاکراتو له سره پیلېدو لپاره قطر ته ځي. نوموړي ویلي چې وړمه ورځ یې د افغانستان د اسلامي جمهوریت مذاکراتي پلاوي له غړو سره په لیدنه کې د افغان سولې اړوند وروستیو تحولاتو او په دې برخه کې د راتلونکو ګامونو په اړه خبرې کړې دي.

عبدالله پر خپل ټویټر پاڼه لیکلي چې په دغه ناسته کې یو ځل بیا د سوله‌ییز هوارې په اړه پر خپلې ژمنې ټینګار کړی: «د افغانستان د اسلامي جمهوري ریاست د مذاکراتي پلاوي له غړو سره، د سولې بهیر، د هېواد وروستي تحولات او راتلونکي ګامونه مو وڅېړل، موږ یو ځل بیا د سوله‌ییز هوارې په برخه کې پر خپلې ژمنې ټینګار وکړ، مذاکراتي ټیم به ډېر ژر د بین الافغاني خبرو له سره پیلېدو لپاره قطر ته ولاړ شي.»

د یادونې ده چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو د مذاکراتي ډلو ترمنځ د بین الافغاني مذاکراتو پړانیسته د تېر ۲۰۲۰ز کال په سپټمبر کې وشوه، خو تر دې مهاله پکې د کوم ښکاره پرمختګ خبر نه دی ورکړل شوی. بلخوا د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب د روانې اونۍ په پیل کې خبریالانو ته وویل چې د سولې خبرې ځکه په ټپه ولاړې دي، چې طالبان مذاکره نه کوي. طالبانو بیا تر دې مخکې د سولې خبرو کې د ځنډ رامنځته کېدو پړه پر افغان حکومت ور اچولې وه.

عبدالله داسې مهال د بین الافغاني مذاکراتو له سره پیلېدو خبر ورکوي، چې ټاکل شوې په ترکیه کې هم د افغان سولې په اړه د ترکیې او قطر په کوربتوب یوه لویه ناسته جوړه شي. طالبانو چې پخوا یې د ترکیې د استانبول په غونډې کې له ګډون نه انکار کړی و، تازه یې ویلي چې د یو لړ شرطونو پر اساس به په دې غونډه کې ګډون وکړي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202520100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه شنبه د ۱۴۰۰ د غبرگولي ۱۱مه | د ۲۰۲۱ د جون لومړی | ۷۲۵مه گنه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۹ | ٤۱ | ٤۰ | ٤۲ | ۳٦ |
| ۱٦ | ۲۱ | ۲۳ | ۲۷ | ۲۵ | ۲۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰۴:۴۲ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیگر ۰۴:۵۱ | ماښام ۰۷:۰۰ | ماخوستن ۰۸:۳۶

## نړۍ



د ایران لانجمن اټومي پروګرام؛

**تهران: د نړۍ له سترو قدرتونو سره د مهمو مسایلو پر حل جدي بحثونه روان دي**

۳

## وزارت صحت‌عامه: در ۲۴ ساعت گذشته ۳۰ تن در کشور به اثر ویروس کرونا جان باخته است



وزارت صحت‌عامه از ثبت ۱ هزار و ۵٦٦ رویداد تازه مثبت ویروس کرونا در یک شبانه روز در کشور، خبر داده است.

از زمان شوع این ویروس در کشور از سال گذشته به این سو، این بلندترین آمار مرگ و میر و رویدادهای تازه مثبت ویروس کرونا، در افغانستان است.

بر بنیاد آمارهای این وزارت، در این مدت ۳۰ بیمار کووید نزده جان باخته و ۱۸۱ بیمار دیگر بهبود یافته‌اند.

رویدادهای تازه در ولایت‌های کابل (۴۸۲)، هرات (۲۲)، کندهار (۱۴۴)، بلخ (۱۵۱)، ننگرهار (۴۷)، تخار (۵۴)، کندز (٦٦)، بغلان (۷)، نیمروز (۱۰۳)، پروان (۱۰۰)، هلمند (۱۴)، پکتیا (۱۴)، وردک (۳۱)، بدخشان (۱۹)، لغمان (۷۳)، کاپیسا (۵۳)، بامیان (۸)، غزنی (۱۸)، کنر (۲۰)، دایکندی (٦)، پنجشیر (۳۴)، بادغیس (۱)، زابل (۲)، غور (۹)، ارزگان (۳)، خوست (۱۵)، سرپل (۱۹)، پکتیکا (۸) و جوزجان (۲۰)، ثبت شده‌اند.

سی رویداد فوتی هم در ولایت‌های کابل (۱۹)، بلخ (۲)، ننگرهار (۲)، بغلان (۱)، هلمند (۱)، وردک (۱)، غزنی (۲)، لوگر (۱) و جوزجان (۱)، ثبت شده‌اند.

با این آمارها، شمار مجموعی بیماران کووید نزده در افغانستان به ۷۳ هزار و ۲۵٦ تن افزایش یافت. از این میان، ۲ هزار و ۹۷۴ بیمار جان باخته و ۵۷ هزار و ٦۳۰ بیمار هم بهبود یافته‌اند.

## بایډن: پر پوټین به فشار راوړم ترڅو د بشري حقونو درناوی وکړي

د امریکا ولسمشر جو بایډن وایي، له خپل روسیي سیال ولادیمیر پوټین سره د لیدنې پر مهال به په نوموړي فشار راوړي چې د بشري حقونو درناوی وکړي.

ټاکل شوې چې دواړه ولسمشران به د جون په ١٦مه د سویس په جینوا ښار کې سره وګوري. دغه کتنه داسې مهال ترسره کېږي، چې د واشنګټن او مسکو ترمنځ په دې وروستیو کې کړکېچ زیات شوی دی.

ولسمشر بایډن په جګړو کې د وژل شویو امریکایانو یاد ته د درناوي د ورځې چې د میموریال د ورځې په نوم هر کال په ټوله امریکا کې نمانځل کېږي، په مناسبت وینا کې وویل، دی په راتلونکو دوو اونیو کې په جینوا کې د روسیې له ولسمشر پوټین سره ګوري او دا به ورته واضح کړي، چې موږ به بې‌تفاوته پاتې نه شو چې دی دې دغه بشري حقونه تر پښو لاندې کړي.

په ورته مهال سپینې ماڼۍ بیا د تېرې جمعې په ورځ وویل چې د دواړو مشرانو ترمنځ دغه کتنه به په ټاکلي وخت او ځای کې ترسره شي. د بایډن اداري د سایبري بریدونو ترڅنګ د کرېملین د سرسخت منتقد الکسي ناوالني د زنداني کېدو له کبله هم پر روسیې نیوکې کړي دي.

## راپورونه: په هند کې د زهرجنو شرابو د څښلو له کبله ۲۵ کسان مړه شوي



د راپورونو له مخې، د هند په اتراپردېش ایالت کې ۲۵ کسان د زهرجنو شرابو له څښلو وروسته مړه شوي دي. د دغه ایالت د پولیسو وياند عجب سینګ ویلي چې یو شمېر نور خلک له همدې کبله په روغتون کې بستر شوي هم دي.


نوموړی زیاتوي چې پولیسو لس تنه د دغې قضیې په تړاو نیولي دي. په ورته مهال ځایي رسنیو راپور ورکړی، چې دغو خلکو دا شراب له یوې هټۍ څخه اخیستي وو چې دوه ورونه یې مالکان دي. د یادونې ده چې په هند کې د کروناویروس له خپرېدو وروسته حکومت د شرابو د پېر او پلور هټۍ بندې کړې، خو د اتراپردېش په ایالت کې د مي له ۱۱ مې ځینو هټیو ته اجازه ورکړل شوه چې په مشخصو ساعتونو کې شراب وپلوري.

په ورته مهال پولیسو ویلي چې دوی د دې قضیې په تړاو خپلې پلټنې پیل کړي، خو تر دې دمه دا نه په ډاګه شوې چې دغه شراب په کوم ځای کې تولید شوي وو.

د یوې سروې له مخې، هرکال په هند کې پنځه میلیارد لیتره شراب پلورل کېږي چې شاوخوا ۴۰ سلنه یې په غیر قانوني توګه تولید او پلورل کېږي. تېرکال د هند د پنجاب په ایالت کې ۹۸ کسان له هغه وروسته مړه شول، چې بې کیفیته شراب یې وڅښل.

## ژوند


## ریالمي خپل ارزان بیه موبایل معرفي کړ





ریالمي کمپنۍ خپل د سي لړۍ نوی ځیرک موبایل چې ریالمي سي۲۰ نومول شوی دی، خپلو مینه والو ته معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل کې ٦٫۵ انچه اېچ ډي پلس ډوله مخ‌پاڼه ورکړل شوې او ۵ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم د مخ‌پاڼې پاسنۍ برخه کې ځای پر ځای شوې ده. ریالمي سي۲۰ شاتنۍ برخه کې یوازې یوه ۸ مېګاپکسله وړتیا لرونکې کامره او یو اېل اي ډي فلش ورکړل شوی دی. دغه ځیرک موبایل به د مېډیاټېک کمپنۍ هېلیو جي۳۵ ډوله پروسېسر، ۲ ګېګابایټ رم او ۳۲ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا سره خرڅلاو ته وړاندې شي. کاروونکي د میموري کارت له لارې د فایل ثبتونې وړتیا ۲۵٦ ګېګابایټ ته لوړولی شي. دغه ځیرک موبایل کې ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې چې له ۱۰ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. ریالمي سي۲۰ به دوو رنګونو کې خرڅلاو ته وړاندې شي او بیه یې ۱۰۵ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.

## وختي پاڅېدل مو له ژور خپګان ژغوري



که څېرته خپه او ناهیلي یئ، سهار وختي پاڅېدل مو له دې خطرناکې ستونزې څخه ژغورلی شي. په دې څېړنه کې اته لکه او څلویښت زره کسان تر څېړنو لاندې نېول شوي وو، چې له پایلو یې معلومه شوه، که څېرته هر سهار وختي پاڅئ، نو د ژور خپګان خطر مو تر ۲۳ سلنو پورې کموي. څېړل شوي ټول کسان پر وخت ویده کېدل او بېرته به پر وخت راپاڅېدل او په رواني توګه د ژور خپګان ښکار هم وو. د خپل نوعیت له مخې په دې لومړنۍ څېړنه کې د دماغي او رواني روغتیا د بدلون لپاره لږ یا ډېر بدلون وڅېړل شو. له دې وړاندې له څېړنو موندل شوې وه چې هغه کسان چې ټوله شپه ویښ پاتې کېږي، د هغو کسانو په پرتله چې سهار ژر پاڅېږي، د ژور خپګان خطر پکې دوه برابره ډېر وي. څېړونکي وایي چې له ټاکلي وخت په یو ساعت وړاندې پاڅېدلو سره د ورځې روښنايي یا رڼا تر لاسه کېږي، چې بیا ذهني فشار کموي او د ژور خپګان خطر یې شاته کېږي، خو په دې اړه وروستۍ خواب تفصیلي څېړنو ته اړتیا لري.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه

عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې کاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کېږي، ترلاسه کړي.

www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank